# د مینې د وادهٔ په حصول کې د
# خنډونو په اړه
# د پښتنې پېغلې سندريز آوازونه

## Pashtun’s women's melodic voices regarding the barriers to getting into love marriages

Dr. Muhammad Sadiq Zharak[1]

Dr. Sayyed Zafarullah [2] Farid Ahmed [3]

*Abstract:*

*This study delves into the lyrical compositions and vocal expressions of Pashtun women, spotlighting the impediments they face in pursuing matrimony with their chosen partners. Rooted in Pashtun folklore, these melodic voices serve as poignant reflections of cultural narratives. The article systematically explores these practices within the Pashtun community, offering insights into their cultural significance. Additionally, the study proposes targeted recommendations to alleviate and eradicate these prevailing practices, contributing to the discourse on cultural evolution and societal progress.*

انساني ټولنه پر بېلابېلو کلتورونو ولاړه ده ،چې په دغه انساني ټولنه کې پښتني ټولنه په ختیځه برخه کې راځي او په ختیځه برخه کې بیا پښتني ټولنه ښېګڼې او بدګڼې هم لري. د پښتنو د ژوند لاري چاري تېرولو ته پښتونواله وئیل کېږي. پښتونواله د تاریخ په اوږدو کې بېلابېل پړاوونه راتیر کړي دي. په دغو پړاوونو کې ئې پښتونوالي ډېري ښېګڼې له لاسه ورکړي نو ډېري ښېګڼې یې لاس ته راوړي دي او همدغسې ئې ډېري بد ګڼې له لاسه ورکړي او ډېري بد ګڼې ئې لاس ته راوړي دي. نن دلته زموږ ته تر قلم لاندې یو داسې بد ګڼه لاندې ده چې د کله ځخه پښتني ټولنه د نرواکۍ اوج ته رسیدلې ده، نو د ګټو تر څنګ ئې یو شمېر زیات

---

[1] Associate Professor, Depatment of Pashtu, Lorali University
[2] Assistant Professor, Department of Pashtu, AWKUM
[3] Mphil Scholar, AIOU, Islambad

تاوانونه په برخه شوي دي، چي د کومو له جوري (له کبله) ئې زموږ د انساي ژوند خوند ډېر ور پيکه کړی دی.

د پښتنوالي په اوسنی هینداره کي د نارینوو په نسبت پښتني او په زياته پښتني پېغلي له يو شمير ستونزو سره مخ دي، چي په اوسنی پرمخ تللي نړی کي د نړی هيڅ يو قانون دغه اجازت نهٔ ورکوي چي د يوهٔ انسان له رضا پرته دي د هغې د ژوند سباون وټاکل شي .لکه په پښتني ټولنه کي چي د وادهٔ په برخه کي زموږ پښتني پېغلي ورسره مخ دي .

پښتني پېغلي په لوی زړهٔ نهٔ شي کولای چي د خپل ژوند ملګري په خپله خوښه وټاکي او خپل ژوند ورسره تېر کړي، ځکه زموږ نرواکه ټولنه دغه اجازت پښتنو پېغلو ته په هيڅ قيمت نهٔ ورکوي او په دې بره کي ئې ژوند له خطر سره مخ کېدلای شي، او که رښتيا سره ووايو په دغسي پېښو کي زياتره يو شمير نجوني خپل ژوند له لاسه ورکړی دی ،زياتي د کورنۍ لخوا وژل شوي دي او کله کله ئې خپله ځانونه زندۍ کړي دي ،يا ئې زهر ښلي دي ،يا ئې تر کوم پاڼ ځان اچولی دی ،يا ئې ځان په سيند لاهو کړی دی. دغسي پېښي په پښتني ټولنه کي بېخي زياتي پېښي شوي دي او له بده مرغه لا ورسره مخ ده په نرواکه ټولنه کي يو نارينه ښه په ډاګه ځانته دا جواز ورکوي لکه په دې لنډۍ کي چي ليدل کېږي:

توره د هغو زلمو کار ده
چي يا مين وي يا ئې پېغله ناسته وينه

اوس که د دغسي لنډۍ لنډه څېړنه وکړو نو په دې کي يو ژوندی تضاد ليدل کېږي. بلي خواته يو پښتون زلمی ځانته دغه حق ورکوي چي خپل مينتوب کي ځان بريالی کړي او بلي خواته د خور مينه پېغور ورته ښکاري دغسي نو ډېر تضادات زموږ په نرواکه ټولنه کي ليدل کېږي.

کله چي يوه پېغله له داسي ستونزو سره مخ شي نو هغه چي د پښتونوالي د پت په خاطر د زړهٔ خبره په خوله نهٔ شي راوړلای ځکه که چيري د زړهٔ خبره پر خولهٔ راوړي بيا که نور هيڅ هم نهٔ وي نو د تل لپاره له پېغور سره مخ کېږي د همدې پېغور په خاطر پر خولهٔ لاس ونيسي لکه په دې لاندي لنډۍ کي چي د يوې پښتني د زړهٔ ږغ ليدل کېږي دغه ږغ بيا د پښتني ټولني اجتماعي ږغ دی.

د پښتونوالي درنه پته

زما په خولهٔ دي لاس نيول ګونګه دي کړمه (۱)

دغه لنډۍ که څه هم يوې پېغلې به وئيلې وي خو دغه لنډۍ زموږ د پښتني ټولني د اوسني وخت بېخي غوره هينداره ګڼلای شو.

فولکلور د هري ټولني رشتني هينداره وي ، هر هغه څوک چي هغوی په ډاګه خپله خبره د ځينو ټولنيزو بنديزونو له جوري وړاندي کولای نه شي، نو هغه بيا خپل اواز پښتني سندرو ته سپاري. زموږ دغه سندريز اوازونه د پښتو فوکلور په بېلابېلو منظومو ژانرونو کي خوندي دي. پښتو فوکلور د منظومو ژانرونو په برخه کي بېخي بډای دی. پښتو سروکو، لنډيو، کاکړيو، اتڼ غاړو، انګيو او يو شمير نورو ژانرونو کي ليدل کېږي خو زهٔ به دلته يواځي په سروکو او لنډيو کي دغه سندريز اوازونه راوړم چي زموږ په دې سکالو کي له موږ سره مرسته کوي.

## د پښتني پېغلي سندريز اوازونه په سروکي:

سروکي د پښتنو فوکلور يوه ډېره بډايه برخه ده ، په دغه برخه کي د پښتنو ډېرو فوکلورستانو کار کړی دی خو د دغي ليکني پر وخت زهٔ يواځي د سروکو په برخه کي د پروفيسر ډاکټر سلمي شاهين له خوا راټول شويو سروکو چي د عوامي سندري په نوم کتاب دی (۱۲۰۰ شا و خوا) کي سروکي راغونډي کړي دي ،زهٔ دلته لاس رسی ورته لرم او ځيني نومونې يې وړاندي کوم چي دغه سکالو پري روښانه شي.

"دا ما به تاله درکوينه
ته تلوار وکا
کودي مي په پلار وکا
په مور مي تعويذونه" (۲)

اوس که موږ دې سروکي ته ځېر شو چي يوې پښتني خپل د زړهٔ ږغ په کوم لفظونو سره سندريز کړی دی ، نو خپل معشوق ته دغه دا پېغام ورکوي چي زما په پلار او مور کودي او تعويذونه وکړه چي مو تاسو له درکړي. په څرګنده ډول که دغه ډېر ساده لفظونه دي ،خو په دې سندريز اواز کي چي کوم درد ليدل کېږي هغه به هغه څوک ډېر زيات شه احساسولای شي ،چي هغوی له دې حالاتو سره مخ شوي دي.

کله چي يوه پېغله په داسي حالاتو کي له ډېرو کړاونو سره مخ کېږي او خپل ماحول ئې داسي کړوي لکه پر اور چي پخيږي، نو په داسي حالاتو کي په اور چاپيريال کي خپل ږغ داسي سندريز کوي.

اور دی لالیه! چاپېره اور دی
په منځ کي زهٔ
ولاړیمه (۳)

همدغسي رږغ په اتڼ غاړه کي دغسي سندریز شوی دی .

"یاره یاره یاره
په سره اور کي ولاړه ستا لپاره
د پښو تلي مه وسوي
زما یاره که باچا ئي تخت دي واوره (۴)
اوس چي مور دغه سروکي او اتڼ غاړي ته ځیر شو او بیا د دغو سندریز اوازونو تر شا انساني وجود او زړه ته د نری په سترګو سترګي ور واړوو نو پوهیدلای شو ، چي زموږ دغه نناوره دود یوه پښتنه پېغله له کومو حالاتو سره مخ کوي.
په دي باب څه نور سروکي په لاس کي لرو چي دلته زموږ سکالو ښه پري روښانه کېږي.
"په ما مینه خبر مي واله
او ماله تانه
بېلوینه (۵)

"زما په زړ رو پی قدم دی
زر قدمه ږدمه
جانانه ستا غېږي له درځمه (۶)

"چي مولا په نصیب څه لیکلي دینه
راشه فالي
لاس مي وګوره :

نری نری اوبه راځي ما ډوبوینه
لالیه لاس مي نیسه (۷)
په لومړی سروکي پښتنه پر خپل عاشق رږغ کوي او په شکاره ورته وائي چي تهٔ خو پر ما مین ئي او ما بل ته ورکوي، درڅخه بېلوي مي او بل ته مه ودوي. همداسي په دوهم سروکي کي وائي چي په هر قیمت وي زهٔ به تاله درځم او تابه خپلوم او په دریم سروکي بیا خبره مقدر او د نصیب لار ته

بیائي او فالي ته وائي چې راشه زما لاس وګوره چې زماپه نصیب کې څه لیکل شوي دي؟

## د پښتني پیغلې سندریز اوازونه په لنډیو کې:

لنډۍ/ ټپې د پښتو فوکلور یو منظوم ژانر دی چې د پښتني ټولني هر اړخیز موضوعات په خپله لمن کې رانغاړي . پر پښتو لنډیو د پښتنو ډېرو فوکلورستانو کار کړی دی خو دلته ځیني لنډۍ د بېلګې په توګه راوړم. چې د دغې سکالو په روښانولوکې مرسته وکړي.

"زما ابی دادا ته وایه
خوشحاله نۀ یم د ناکامه ناسته یمه (۸)

خاونده بیا دي ماسخوتن کړو
بیا به مي خوا کښي موزیګی کوي خوبونه

خاونده بیا دي ماسخوتن کړو
چي نا رضا کټ ته مي ریږدي اندامونه

"زما نصیب کي جانان نشته
خلقه زما په نصیب مه تړی داوونه (۱۰)

"ولي به نۀ ژاړم عالمه!
وړوکی یار مو لویوو د نورو شونه" (۱۱)

"زما نصیب کي جانان نشته
ملا دي وګوري د علم کتابونه

زما نصبي کي جانان نشته
خلکه! زما په نصیب مه نسئ شرطونه (۱۲)

"ولي به نۀ ژاړم عالمه
چي زوړ سړی مي د وصال تمه کوینه

ولي به نۀ ژاړم تباه شوم
وړوکی یار مي نو یاوه د بل چاشونه " (۱۳)

اوس چې پورتنيو لنډيو (ټپو) ته ځير شو نو يوه پښتنه پېغله په ځومره هنر د خپل دردېدلي زړۀ اوازونه په کې نغښتي دي. په لومړۍ لنډۍ کې له خپلې مور او پلار ځخه ځومره ګيلمنه ښکاري او د خپل زړۀ اواز په په ځومره ساده ټکو کې ورلېږي.

په دوهمه او درېيمه لنډۍ کې همدغه فرياد کوي چې بيا ماسختون شو اوس به يو ځل بيا د ناخوښه مېړه (خاوند) ځنګ ته ځم او د خپلې ناوسۍ اواز ځنګه په دې لنډۍ کې نغاړي او د خپل ريږدېدلي وجود انځور ګري په ځومره هنر پکښې کوي په ځلورمه شپږمه او اوومه لنډۍ کې يوه پښتنه پېغله د خپلې د خوښې مېړه (جانان) خبره په قسمت پورې تړي. د دغه ناوسې ټولنې او ناوسو خلګو کار هم دغه دی چې کوم ځه ته لاس رسی ونه لري نو بيا قصه په قسمت او نصيب پورې تړي ،ځکه ورسره بله لار نشته کنې دلته خو ئې په نصيب کې د نرواکې ټولنې ناوړه دودونه خنډ ښکاري چې زموږ پښتنې ورسره مخ دي.

په پنځمه اتمه او نهمه لنډۍ کې بيا پښتنه پېغله د خپل زړۀ اواز ځۀ داسې سندريز کړی او خبره بيا د نصيب خواته بيا ئې چې وړوکی يار ما لوی کړ او زما په نصيب نه شو او په دغه بله لنډۍ کې بيا د همزولې مېړه پر ځای چې د کورنۍ لخوا د زاړه په برخه شوې ده ژړا او فرياد کوي.

دلته اوس زما د يادښت له کتابچې ځخه درې نورې لنډۍ راوړم چې د يوې پېغلې سندريز اوازونه پکښې نغښتي دي.

واده د خوښې ګناه نه ده
خويندې دې ولې پېغورونه راکوينه

زما نصيب کې جانان نشته
که د تعويز په ځای ملا په غاړه کمه

پېغله ئې زوړ سړي ته ورکړه
لکه د لم غوښې چې سپي ته واچوينه

د مينې د وادۀ په حصول کې د خنډونو په اړه د پښتنې پېغلې سندريز اوازونه ځينې بېلګې چې مو له سروکو او لنډيو په دلته ځخه پورته بحث کې راوړلې نو له دې ځخه دا خبره سپينيږي چې زموږ په ټولنه کې د نرواکۍ ځومره بې ځايه زور ليدل کيږي چې يوه پېغله ټول ژوند د نرواکې ټولنې له جوړې او د پښتنوالې د بې ځايه دودونو له جوړې

په اور او لمبو کې تېروي .د خپل خوښي د وادهٔ پر ځای د کورنۍ د پرېکړو په نتيجه کي ټول عمر ځورول کېږي. دغه ځورونه يو عاطفي زرهٔ هم نه شي زغملای. د خپل دي بحث په پای کي يوه کاکړۍ غاړه راوړم او و خپلي ليکني ته د پای ټکی ږدم چي زموږ نجوني او پېغلي څومره د بېوسی او لاچاری ژوند له خپلي رضا پرته تېروي.

پردېسي د اور دودونه
ليا هيندوان ګالي ليا نجونه

پايله:

١: د پورتني بحث په نتيجه کي موږ دا ويلای شو چي د پښتنوالي دغه ناوړه دود چي د بېلابېلو وجوهاتو له کبله زموږ ټولني ته راغلی دی بايد د دي مخه ونيسو.

٢: د داسي دودونو په وړاندي بايد زموږ ځوان کهول په دغه برخه کي د خپلو خويندو ملګرتيا وکړي او پښتني نجونو ته دخوښي د ودونو لپاره ښې لاري وسنجوي.

٣: پښتنو چي په لوی لاس له دغه عمل څخه د غيرت يوه کيسه جوړه کړې ده .دغه د بېځايه غيرت کيسه بايد نوره ختمه شي او د دغه غيرت پر ځای بايد په خپلو لوڼو او خويندو عصري تعليم وکړل شي او پښتني پېغلي د خپل ژوند په کولو کي بايد ازادي او خپلواکي شي.

حوالې:


١: لايق، سليمان پښتو لنډۍ د سريزي اتم مخ، چاپ پښتو ټولنه کابل چاپ ١٣١٣

٢: شاهين، ډاکټر سلمی، عوامي سندري ٧م مخ .چاپ پښتو اکاډمي پېښور ٢٠٠٨

٣: شاهين، ډاکټر سلمی، عوامي سندري ١۴م مخ .چاپ پښتو اکاډمي پېښور ٢٠٠٨

۴: سيال کاکړ، فوکلوري سوغات ، ١٠٩ مخ چاپ قلات پبلشرز کوټه ١٩٧٨

۵: شاهين، ډاکټر سلمی، عوامي سندري ١۶م مخ .چاپ پښتو اکاډمي پېښور ٢٠٠٨

۶: شاهين، ډاکټر سلمی، عوامي سندري ۴م مخ .چاپ پښتو اکاډمي پېښور ٢٠٠٨

٧: شاهين، ډاکټر سلمی، عوامي سندري ٣۴م مخ .چاپ پښتو اکاډمي پېښور ٢٠٠٨

٨: شاهين سلمی، روهي سندري لومړی ۴٠۵ مخ چاپ پښتو اکاډمي پيښور درېيم چاپ ٢٠١٣

٩: شاهين، ډاکټر سلمی، عوامي سندري ٢۴٣م مخ .چاپ پښتو اکاډمي پېښور ٢٠٠٨

١٠: شاهين، ډاکټر سلمی، عوامي سندري ۴۳۳م مخ .چاپ پښتو اکاډمي پېښور ٢٠٠٨

١١: شاهين، ډاکټر سلمی، عوامي سندري ۶۳۳م مخ .چاپ پښتو اکاډمي پېښور ٢٠٠٨

١٢: لايق، سليمان پښتو لنډۍ ٢٨٨م مخ، چاپ پښتو ټولنه کابل چاپ ١٣١٣

١٣: لايق، سليمان پښتو لنډۍ ۴۶۹ م مخ، چاپ پښتو ټولنه اکاډمی کابل چاپ ١٣١٣